# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د عیسی مسیح د پاره د آزمیښت وخت


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




کله چې عیسی
بپتسمه واخستله، نو
خدائ پاک ووئیل،
چې دا زما خوږ
زوئ دے، د چا نه
چې زۀ خوشحاله یم،
د خدائ پاک روح
په عیسی مسیح
باندې لکه د کونترې
په شان نازل شو.




د دې نه پس، د خدائ
پاک روح عیسی مسیح
یو ځنګل ته بوتلو عیسی
مسیح هلته یواځې وو.
3


عیسی مسیح څلویښت ورځې روژه
ونیوله. د دې مطلب دے چې هغۀ نۀ
څۀ خوړلی او نۀ څۀ څښلی. هغۀ
ډېر زیات اوږے شوے وو.
4


په کتاب مقدس کښې وئیلی شوی دی چې
هلته کښې څۀ ځنګلی ځناور هم وو.
5


شیطان د عیسی مسیح د آزمائیلو د
پاره راغے، ډېره موده مخکښې هغۀ
آدم او بی بی حوا هم په باغ عدن کښې
د خدائ په نافرمانئ کښې آزمائیلی وو.
اوس به عیسی مسیح
آزمائیلے کیږی.
6


تر دې پورې چې شیطان
عیسی مسیح د خدائ پاک
زوئ هم په آزمیښت
کښې اچوی.
7


شیطان عیسی مسیح ته ووئیل، کۀ چرې تۀ د
خدائ پاک زوئ یې نو تۀ دې کانړو ته ووایه
چې ډوډئ شی. هغۀ ته پته وه چې عیسی
مسیح اوږے دے. او هغۀ ته دا هم پته وه
چې د خدائ پاک زوئ عیسی مسیح دا
کانړی په ډوډئ باندې بدلولے شی. آیا
عیسی مسیح د
شیطان
خبره ومنله؟
8


نه! عیسی مسیح د شیطان خبره ونهٔ منله. بلکې هغهٔ د خدائ پاک د کلام نه هغهٔ له جواب ورکړو، چې انسان صرف په ډوډئ باندې ژوندے نهٔ پاتې کیږی. بلکې په هره هغه خبره چې د خدائ پاک د خولې نه راوځی.
کتاب مقدس
9


بیا شیطان عیسی مسیح یروشلم کښې د خدائ پاک د کور اوچتې منارې ته وخېژولو، چرته چې به خلقو د خدائ پاک عبادت کولو. اوس به شیطان مخکښې څهٔ کوی؟
10


شیطان ووئیل، کهٔ چرې تهٔ په رښتیا د خدائ پاک زوئ یې، نو تهٔ خپل ځان د دې مُنارې د سر نه ښکته وغوزوه. د خدائ پاک په کلام کښې لیکلے شوی دی چې د هغهٔ فرښتې به ستا حفاظت کوی.
11


عیسی مسیح جواب ورکړ، نه، په کلام کښې دا هم لیکلی دی چې تاسو په خپل مالک خدائ باندې آزمیښت مهٔ کوئ.
کتاب مقدس
12


شیطان یو ځل بیا کوشش وکړو. او عیسی مسیح یې د هغه ښار د ټولو اوچت غر ته وخېژولو.
13


شیطان هغهٔ د زمکې هغه ټول بادشاهتونه او شان او شوکت وښودلو او عیسی مسیح ته یې ووئیل. کهٔ چرې تهٔ ما ته سجده وکړې نو زهٔ به دا هر څهٔ تا له درکړم.
14

عیسی ووئیل، اے شیطانه لرې شه، ځکه چې لیکلے شوی دی تاسو صرف خپل مالک خدائ ته سجده کوئ او د هغهٔ عبادت کوئ.




15

بیا شیطان د عیسی مسیح خوانه لاړو. او بیا ډېر ښکلے کار وشو، خدائ پاک خپل زوئ چا چې د شیطان خبره رد کړه، د هغهٔ د خدمت د پاره فرښتې راولیږلې.



16

د عیسی مسیح د پاره د آزمینت وخت

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

متی ٤ ، لوقا ٤

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

17




38

60

18

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

19